# د رحمان بابا په شاعرۍ کښې د بشر دوستۍ رنګونه

# The Colors of Humanity in the Poetry of Rehman Baba

Khosh Bakht*

**Abstract:**

Rehman Baba is the most popular Pashto poet. He is best known as Sufi poet. His most of poetry consisted of messages of humanity and mankind. He is the pioneer of mysticism and Sufism in Pashto poetry. In this very article it has been tried to highlight his love for humanity and mankind. His message of equality, brotherhood, sympathy, kindness etc, he has delivered in his poetry.

بشر دوستي يا انسانيت (Humanism) او عالمګير انسانيت (Universal Humanism) يوه ډېره وسيع او فراخه اصطلاح ده. چې که يو خوا ئې د بشر پوهنې (Anthropology) په مطالعه کښې ئې اهميت په ځائے منلے شي نو بل خوا د ټولنپوهنې (Sociology) او نفسياتو (Psychology) په مطالعه کښې هم د بشر دوستۍ يا انسانيت لوستنه او څېړنه کولے شي. د دغه ټولو سماجي علومو (Social Sciences) سره سره بشر دوستي د اخلاقياتو (Ethics) په مطالعه کښې هم ډېر زيات اهميت لري. د انسانيت يا بشر دوستۍ دغه د اخلاقياتو اړخ په بنيادي توګه د ادب او شاعرۍ مرکزي موضوع ګرځېدلې ده او په نړيوال ادب کښې د هرې ژبې په کلاسکي ادبياتو کښې ئې ځان ته ځائے پېدا کړے دے.

---

* Ph.D. Research Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar.

په ادب کښې د بشر دوستۍ دغه رنګونه د ځينو نورو علمي، ادبي، ديني او اخلاقي موضوعاتو سره ښکلي په ښکاره په نظر راځي. په دغه موضوعاتو کښې يوه اهمه او جوته موضوع د تصوف هم ده، چې يو خوا خو د خالق سره د مينې او نږديکت وظيفه ترسره کوي او بل خوا د خالق مخلوق سره د مينې او قربت رنګونه رامخې ته کوي.

د تصوف نه علاوه ترقي پسندي هم د ادب يوه اهمه او بنيادي موضوع ده، چې اصل مقصد ئې د انساني ټولنې د حالت زار ښۀ کول او ورته د اسوده ژوند او وسائلو ورکولو دپاره هڅې کول دي، په ټولنه کښې سماجي ناهموارۍ ختمول او يو داسې نظام رائج کول دي چې انسان پکښې د خپلو صلاحيتونو او عملي هڅو په نتيجه کښې ترقي وکړے شي. په دې بنياد د ترقي پسند تحريک بنياد کښې د انسانيت د بقا او بشر دوستۍ مفهوم پټ پروت دے.

د بشر دوستۍ تصور افاقي دے. دا تصور د هر قسمه مذهبي، قامي، قبيلوي، جغرافيائي او طبقاتي امتياز نه بالاتر دے. مطلب دا چې په مذهبي عقائدو او د عبادت په طريقو او رسوماتو کښې که هر څومره فرق او تضاد په نظر راغلے دے خو د انسانيت د خير او بقا او بشر دوستۍ تصور بيا هم د فرق او امتياز نه بالاتر پاتې شوے دے ځکه ورته افاقي حېثيت حاصل شوے دے.

په نړيوال ادب کښې د هرې ژبې په کلاسکي ادبياتو کښې د بشر دوستۍ او انساني اقدارو ابلاغ او اخلاقياتو درس او پېغام ورکړے شوے دے. د نړۍ په دغه کلاسکي ادبياتو کښې د مشرقي ژبو د ادبياتو نه يوه ژبه پښتو هم ده، چې په کلاسکي ادبياتو کښې ئې د انسانيت په ابلاغ او بشر دوستۍ ډېره زياته توجه شوې ده. مونږ که د پښتو په کلاسکي ادبياتو نظر واچوؤ نو د ګڼو سياسي، سماجي او ټولنيزو مسئلو د ترجمانۍ سره سره پکښې د انسان دوستۍ او بشر پالنۍ يو واضح تصور هم پېش کړے شوے دے.

د پښتو په کلاسکي شاعرانو کښې د ټولو نه معروف، مقبول، هر دل عزيز او څرګند نمائنده شاعر رحمان بابا دے. چې د بشر دوستۍ او انسانيت

د ټولو نه لوئے مبلغ او مرستیال دے. که په تصوف کښې د بشر دوستۍ مفهوم جوت مقام لري نو رحمان بابا هم د صوفیانه شاعرۍ د ټولو نه لوئے نوم دے او که په ترقي پسند ادب کښې د انسان دوستۍ مفهوم بنیادي حېثیت لري نو رحمان بابا ته هم زمونږ دانشورانو د خپل وخت یو نومیالي ترقي پسند شاعر مقام ورکړے دے.

د تصوف او ترقي پسندۍ نه علاوه هم رحمان بابا د اعلی انساني اقدارو او اخلاقي معیار ګڼ رنګونه په خپله شاعرۍ کښې ځائے کړې دي او په هم دغه وجه هغه د "شاعرِ انسانیت" په اعلی او سپېڅلي مقام نمانځلے شوے دے. اوس ګورو چې د بشر دوستۍ او انسانیت هغه کوم اړخونه او رنګونه دي چې د رحمان بابا په شاعرۍ او مجموعي پېغام کښې په نظر راځي.

**پندونه او نصیحتونه:**

پند و نصیحت د بشر دوستۍ یو اهم اړخ دے، چې رحمان بابا ئې په شاعرۍ کښې ډېر په ښۀ توګه پاسداري کړې ده او دغسې ئې د اعلی اخلاقي اقدارو ترجماني د خوږو او سبق اموز نصیحتونو په شکل کښې کړې ده. د رحمان بابا د نصیحت انداز ډېر اثر ناک دے او دا ځکه چې رحمان بابا که بل ته پند وائي نو ورسره ځانته هم نصیحت کوي او خپل ځان د دغه پند او نصیحت پابند ګڼي. لکه چې وائي:

اے رحمانه اول تۀ نصیحت واخله
دغه پسه بیا وبل ته نصیحت کړه[1]

هم پند اخلم هم پند وایم و هر چاته
زۀ د ځینو یم مرید د ځینو پیر یم[2]

ښاغلے داور خان داؤد د رحمان بابا د خوږو پندونو او نصیحتونو په حقله لیکي:

"د رحمان بابا کلام د وعظ او نصیحت په رخت او زېور آراسته او پېراسته دے. د دهٔ د پندونصیحت طریقه محض واعظانه او ناصحانه نهٔ ده، چې په سرې بده لګي. په حقیقت کښې حقیقت وېنا کول ډېره ګرانه ده، دا په اورېدونکي ترخه او بده لګي. خو که د دې دپاره یوه ښهٔ طریقه اختیار کړے شي، داسې طریقه چې پکښې خوږوالے وي، اثر وي او په عبرت ناکه طریقه وشي نو هر څوک به ورته په ډېره مینه او خوشحالۍ هرکلے وائي او د زړهٔ په غوږونو به ئې اوري او د بیا بیا اورېدو به ئې لېواله شي.

چې د وعظ و نصیحت ئې دا طریقه وي نو څنګه به په چا بده لګي لکه:

دا خبره زهٔ و ځان ته کړم اے یاره!
دلګیر مهٔ شه که مې نوم واخست دتا
نوم د ستا او د بل اخلم ځان ته وایم
نهٔ مې کار، نهٔ مې غرض شته په بل چا
هر چې وایم، هغه واړه ځان ته وایم
څهٔ مې کار، څهٔ مې غرض دے په نور چا
که مې ځائے د دې غمونو وے په زړهٔ کښې
ما به څهٔ لره کوله دا انشا"[۳]

بې ځایه به نهٔ وي که د رحمان بابا د وعظ و نصیحت نه ډکې یو څو ملغلرې د خپلې خبرې د پخلي په توګه وړاندې شي چې د دې وېنا حقیقت او صداقت برڅېره کړي. د ښهٔ خوي لرونکي سره د تعلق پېدا کولو ترغیب په دې ډول ورکوي:

لاس و پښـــــې د هغــــــه نیســــــه
چـــې خـــوښ خویـــه، خـــوش خصـــال وي

د راستی ستائینه او د فساد غندنه څهٔ په ښکلي انداز کښې کوي:

سـم قامـت لکـه الـف یـم پـه راسـتی کښـې
لکــه غشــے زهٔ فســاد لــره سـم نــهٔ یــم.....

رحمان بابا د هر چا سره د صلح ساتلو حامي دے. د هغهٔ نظریه د حافظ شیرازي "بامسلمان الله الله با برهمن رام رام" ده. لکه چې وائي:

ګـــاه د نـــورو رضـــا بویـــه ګـــاه خپلـــه
یکـــار نـــهٔ ده همیشـــه خپلـــه رضـــا.....

انسان ته د هغهٔ د خیر ښیګړې او فائدې ښودلو په لړ کښې داسې نصیحت کوي:

امتـــــــي د ابـــــــراهیم شـــــــه
تـــــابع مـــــهٔ شـــــه د نمـــــرود
د غفلـــــت لـــــه خوبـــــه پاســـــه
څـــو بـــه اوســـې خـــواب آلـــود
مقیـــــد او مشـــــغول اوســـــه
پـــــه دعـــــا او پـــــه درود [۴]

**اخلاقیات او بشر دوستي:**

د رحمان بابا شاعري په مجموعي توګه د اخلاقي درس او عبرت شاعري ده. د هغهٔ ټوله شاعري د انسانیت او اخلاقو هنداره ده. او هم په دغه حواله هغهٔ ته د انسانیت شاعر هم وئیلے شي.

د "رحمان بابا او اخلاقيات" د موضوع لاندې فهم دل راهي صاحب ليکي چې:

"رحمان بابا چې خپلو اشعارو کښې د اخلاقياتو په حقله کومې تللې او ژورې وېناګانې کړې دي، هغو نه د تصوف د علم، تجربې، اسلامي نظريې او تعليماتو سره د مينې او مخلوق د خواخوږۍ جوخته پته لګي. زما دا خيال دے چې د پښتونخوا دا ستر صوفي، عاشق، مجذوب، مسلمان، په څرګنده ملنګ، پټ بادشاه، نۀ خليل، نۀ داؤدزے، نۀ مومند، نۀ غورياخېل بلکې د هر چا د زړۀ سر د هر چا د سترګو تور او د لويو وړو دپاره يو داسې انسان ؤ چې د انسانيت په درد دردمند او هر انسان ته په يو نظر کتونکے ؤ".[5]

دوست محمد کامل صاحب د رحمان بابا د کلام نه د اخلاقياتو نمائنده ځنې شعورنو انتخاب کړے دے، چې پکښې په توکل، احسان اوچتولو، قناعت او استغنا، فقر، حلال کسب، ادميت، دولت او ادميت، نېک خوئي، خوش خلقي، صلح سلامتيا، دلجوئي، د بدو په ځائے ښۀ، خدمت خلق، همدردي، انصاف او نورو ګڼو اخلاقي اقدارو نمائنده شعرونه چوڼ کړے شوې دي. چې دلته ئې هم د دغو عنواناتو سره په مختصر توګه وړاندې کوو.

**توکل:**

کـه لـه خدايـه دې و خلقـو تـه مـخ شـي
لـه فردوسـه بـه دې مـخ شـي و سـقر تـه.....

چـې مـولا ورسـره مـل نـۀ وي رحمانـه!
کـه لښـکرې ورسـره وي يـک تنهـا دے

**احسان وچتول:**

بې له خدايه نور د هېچا منت مهٔ کړه
په وچ کاڼي باندې ونه د کهسار شه

بې منته جام د زهرو ښېلې ښهٔ دے
نهٔ هغه چې منت بار شي و کوثر ته

**قناعت او استغنا:**

د دنيا بادشاهان خواست کړي له فقيره
تهٔ بادشاه هسې ملک شه فقير مهٔ شه

موږ به نهٔ شو په حرص بې قناعته
اے په تخت د اورنگزېب ناسته گدايه

**فقر:**

چې د توک په طلب گرځي خدائے دې هېر دے
فقيري دا هسې چېرې وي فقيره

**حلال کسب:**

ماته ملا په مشقت په محنت ښهٔ ده
نهٔ حرامه هميانۍ د چا تر ملا

**ادميت:**

په آدم کښې د حېوان خويونه هم شته
بيا هاله ئې آدم بوله چې آدم شي

**دولت او ادميت:**

ادميـت څـۀ پـه دولـت نـۀ دے رحمانـه!
بـت کـه جـوړ شـه د سـرو زرو نـۀ انسـان شـه

لـــه ســـړيه غـــرض واړه ســـړيتوب دے
نـــۀ چـــې پـــټ وي د ســـرو زرو پـــه لبـــاس

**نيک خوئي:**

نېکنـامي د نېـک خـويۍ نـه پېـدا کېـږي
دغـه چـاره نـۀ پـه سُـوک نـۀ پـه لَـوَړ شـي

**خوش خلقي:**

کـه ژونـدون دے خـو هـم دا دے پـه جهـان کښـې
چـــې لـــه چـــا ســـره تېرېـــږي پـــه خنـــدا

**صلح سلامتيا:.....**

زهـر ښـۀ دي چـې پـه صـلح پـه صـلاح وي
نـــۀ شـــکرې پـــه فتنـــه او پـــه غوغـــا.....

**دلجوئي:**

کـــه مشـــکل دي خـــو د زړونـــو رغـــول دي
ســـهل کـــار دے کاروبـــار د دې دنيـــا

**د بدو په ځائے ښۀ:**

کـه بـل بـد کانـدي تـۀ ښـۀ ورسـره وکـړه
هـر يـو نخـل چـې مېـوه لـري سنګسـار شـي

**خدمت خلق:**

هغـــه زړۀ بـــه لـــه طوفانـــه پـــه امـــان وي
چـې کِشـتیِ غونـدې د خلقـو بـاربردار شـي.....

**همدردي:**

ښـۀ توښـه مـې نـۀ شـي پـه تـش ډاډ د کـوروکلي
مـرد بويـه چـې واخلـي د غـم پېټـې لـه غمګینـه

کــه دې وېــره شـــي لـــه خپلـــې درمانـــدګۍ
د دردمانـــدو دســـتګیري کــړه خبــردار شـــه

**انصاف:**

کـه څـوک تلـه د انصـاف پـه لاس کښـې درکـا
خپـــل تـېـــو او د بـــل اس بـــه برابـــر کـــړي[٦]

**مقامیت، افاقیت او بشر دوستي:**

مقامیـت او افاقیـت دوه داسـې اصـطلاحات دي چې پـه ورومبـي نظـر کښې د یو بل ضد ښـکاري. ځکـه چې پـه افاقیـت کښـې د عـالمګیریت عنصر شـامل وي او پـه داسـې تصـور کښـې د مقامیـت قومیـت، نسـلیت او قبیلویـت ګنجائش نۀ وي.

البتـه دا وئیلې کېدې شي چې خپل نسلي، قبیلوي یـا مقـامي احسـاس هم د افاقي او عـالمګیر تصور سره په مثبت انداز نزدې کېـدې شـي. او څنګـه چې یـو شـاعر د ټـول عـالم خیـر او ښـېګړه غـواړي، دغسـې د خپـل قـام قبیلـې، نسـل او مقـام دپـاره هـم د امـن خیـر او خوشـحالۍ غوښـتنه کولې شي. پـه دغـه طریقـه د مقامیـت او قامیـت احسـاس هـم د افاقیـت د عـالمګیر تصـور برخـه جوړېـدې شي. او رحمـان بابـا پـه هـم دغـه مثبـت انـداز د افاقیـت د عـالمګیر

تصور سره سره د قاميت او مقاميت تصور هم وړاندې کړے دے. خو کله چې رحمان بابا د بشر دوستۍ د عالمګير تصور څرګندونه کوي نو د هر قسم مذهبي، نسلي او قبيلوي احساس نه بالاتر د مجموعي انساني تصور د خېر، امن او سوکالۍ پېغام وړاندې کوي چې د رحمان بابا افاقيت ته اشاره کوي. د رحمان بابا د افاقيت په حقله ډاکټر حنيف خليل صاحب ليکي:

"د دهٔ د شاعرۍ د محبت وروروليۍ، سلامتۍ او اخلاص نمائنده شعرونه ټول داسې احساسات لري چې د انسانانو مشترکه موضوعات دي او د انسان طبيعت او فطرت ترې په هېڅ صورت انکار نشي کولے. دا قسمه خيالات د ماضي، حال او مستقبل انسان دپاره په هر دور کښې قابل قبول ګڼلے شوې دي. دا قسمه افکار هر څو که د رحمان بابا شاعرۍ نه علاوه د نورو شاعرانو په شعرونو کښې هم شته ولې د رحمان بابا غوندې به چرته هم نهٔ وي.

د فطري شعر هم دغه غټ خاصيت د دهٔ شاعرۍ ته افاقيت بخښلے دے. هم دغه وجه ده چې رحمان بابا د انسانيت دپاره شاعري کړې ده. ځکه چې انساني شاعري په هر دور کښې چا دپاره اهميت او مقام لري. او بيا انسان ته هم د خېر، بقا، امن او سلامتۍ درس ورکوي. په دې درس ورکولو کښې هغه د قاميت، مذهب، خاندان يا قبيلې د هر څهٔ د امتياز نه بالاتر وي. خصوصاً په انسان د انسان ظلم او زياتے غندي او د انسانيت د خدمت ترغيب کوي. لکه دا شعرونه:

آدم زاد په معنۍ واړه يو صورت دي
څوک چې بل ازاروي هغه ازار شه

هغــه زړهٔ چــې عــرش الله دے هغــه کــوم دے
چــې دې تــوان شــي د همــا زړونــو خــدمت کــړه

لکــه ځــان هســې و بــل وتــه نظــر کــړه
لکــه ســتا دے هســې ځــان دے د هــر چــا

په انسان او نورو مخلوقاتو د ظلم غندنه داسې کوي:
کــه دې وېــره شــي لــه ظلمــه لــه ســتمه
تــهٔ هــم مــهٔ کــړه پــه هېچــا بانــدې ســتم

او بیا د نېکۍ او خدمت ذکر داسې کوي:

کــر د ګلــو کــړه چــې ســیمه دې ګلــزار شــي
اغــزي مــه کــره پــه پښــو کښــې بــه دې خــار شــي
هغــه زړهٔ بــه لــه طوفانــه پــه امــان وي
چــې کشــتۍ غونــدې د خلقــو بــار بــردار شــي"[۷]

پورته ذکر کړے شوي ټول موضوعات د انساني شریک دي او هم دغه د انسانیت شریک موضوعاتو د رحمان بابا شاعرۍ ته افاقي حېثیت ورکړے دے.

اوس چې د رحمان بابا د دغه افاقیت او عالمګیر انسانیت د تصور سره سره د قامیت او مقامیت تصور ته غور کوو نو هم پکښې د انسان یا بشر د خوشحالۍ او سوکالۍ پېغام ځائے کړے شوے دے. خو فرق صرف دومره دے چې یو ځائے د عالمګیر انسانیت خبره کوي او بل ځائے په دغه عالمګیر انساني تصور کښې د خپل قام قبیلې او مقام مثالونه هم وړاندې کوي.

کامل صیب لیکي چې:

"د وطنیت یا مقامیت او قومتي له نقطه نظره مونږ د رحمان بابا په کلام کښې د ماحول او ذهني ورثې ښکاره اثرات وینو. د هغهٔ په کلام کښې د هغهٔ د وطن، قومیت او ژبې (ورته د اشارو نه علاوه) ښکاره ذکر شوے دے. د خپلې زمانې په ځینو واقعیاتو او حالاتو ئې تبصره کړې ده. چې که ډېره نهٔ ده نو تر څهٔ حده پورې خو ضرور د قومیت او وطنیت جذبه لري. او دا خبره ترې په ښهٔ شان سره څرګندېږي چې مبصر یو پښتون دے. د پښتنو او پښتونخوا په ادبي حېثیت د ترقۍ له خدایه خواست کوي". [۸]

دلته د رحمان بابا د دیوان نه صرف یوه نمونه پېش کوم چې پکښې د خپل قام، اولس او پښتني ټولنې مسئلې په ګوته کوي او په دغه اولسي مسئلو کښې د بشر دوستۍ او انساني ټولنې پېغام وړاندې کوي:

هر چې کښت ئې په باران و په سېلاب وي
د هغو عمر به واړه په عذاب وي
هغه ملک چې پکښې سیند و رود بار نهٔ وي
دهقانان به ئې هما خانه خراب وي
د اوبو په غلا چې ورشي نهٔ جار وځي
که ساکن د خانقا او د محراب وي
د اوبو په وېش چې ورشي انصاف نهٔ کا
که په لاس ئې ورقونه د کتاب وي

د للمـــي ســـړي پـــه مـــخ کښـــې وي اب چېـــرې
هغـــه خلـــق چـــې بـــې اب وي خـــو بـــې اب وي
پـــه ابـــي کښـــې لاهـــم وي خونـــه ويرانـــه
هغـــه کلـــي چـــې د بـــل کلـــي پائنـــاب وي
هســـې شـــان ســـړے تېـــرے وربانـــدې وکـــړي
چـــې پـــه عمـــر نـــۀ د ســـوال نـــۀ د جـــواب وي
همســـايه ئـــې چريکـــار و پښـــتانۀ شـــي
او پـــه اصـــل بـــه مـــوچي يـــا بـــه قصـــاب وي
چـــې اشـــراف د هســـې خرســـو پـــه لاس کښـــېوزي
تـــرو خلاصـــي بـــه ئـــې لـــه خونـــه پـــه کـــوم بـــاب وي
د خشـــکۍ لـــه غمـــه قـــوم د رحمـــان خـــوښ دے
کـــه رفـــتن ئـــې لـــه جهانـــه پـــه شـــتاب وي[۹]

عرض دا چې بشر دوستي د رحمان بابا د شاعرۍ يوه بنيادي حواله ده او رحمان بابا په مجموعي توګه د بشر دوستۍ د تولو نه لوئے نمائنده پښتون شاعر دے.

# حوالې

[۱] رحمان بابا، د رحمان بابا کليات، (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند / قلندر مومند، چاپړے، پېښور، ۱۹۸۴ء، مخ ۲۲۰

[۲] هم دغه اثر، مخ ۱۴۵

[۳] داؤد، داور خان، رحمان بابا (ژوند، تعليمات او شاعري)، يونيورسټي بک اېجنسي پېښور، س ن، مخ ۲۳۸

[۴] هم دغه اثر، مخونه ۲۴۰، ۲۴۱

[۵] راهي، فهم دل، عبدالرحمان بابا او اخلاقيات، مشموله، رحمان پوهنه، څلورم ټوک، رحمان ادبي جرګه پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ ۱۷۳

[۶] کامل، مومند، دوست محمد خان، رحمان بابا، دانش خپرندويه ټولنه ۲۰۰۲ء، مخونه ۲۹۰، ۲۹۱

[۷] خليل، حنيف، د رحمان بابا اعجاز، اداره علم و فن پاکستان، اګست ۱۹۹۷ء، مخونه ۲۳، ۲۴

[۸] کامل، مومند، دوست محمد خان، رحمان بابا، مخ ۳۰۳

[۹] عبدالرحمان، د عبدالرحمان بابا ديوان، (مقدمه و ترتيب ميا سيد رسول رسا) يونيورسټي بک اېجنسي خيبر بازار پېښور، س ن، مخونه ۱۰۷ – ۱۱۰